# إعداد خطيب ماهر

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مُضِلَّ له، ومن يُضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان وسلم تسليمًا.

اما بعد: کله چې خلکو په دوامداره توګه د چارو د سمونتیا لپاره یو څه ته اړتیا درلوده، نو شریعت ورته داسې یو څه راوړل چې دا اړتیا یې پوره کړي، لکه هغه څه چې د جمعې له خطبې سره تړاو لري، لدې امله د جمعې خطیب لوی مسؤولیت لري، چې له امله یې موږ د (ګټور لنډیز، د موذن، امام، خطیب، او د جوماتونو احکام په)[1] په نوم کتاب چمتو کړ او بېلابېلو ژبو ته مې وژباړه: پدې کتاب کې ډېر موضوعات نغاړل شوي دي لکه:

د جمعې لمونځ او مفهوم، د لمانځه وخت او ځینې هغه احکام چې د مکلف سره تړاو لري. د جمعې خطبه او د خطبې حکم، شرطونه، ارکان، سنتونه او د خطبې ژباړه. د خطیب علمي او اخلاقي ځانګړتیاوې، د خطبې او خطیب آداب، له خطبې څخه غرض او موخې او د خطبې چمتو کول.

او دا چې موضوع خورا زیات ارزښت درلود نو لومړي کتاب ته د پراختیا ورکولو او بشپړولو په موخه دا دویم کتاب د: (ماهر خطیب چمتو کول) په نوم راووت.

---

.https://islamcontent.com/ar/single-content/74839 - 1

له الله تعالی څخه سوال کوو چې زموږ عمل صالح او خاص د خپلې رضا لپاره وګرځوي، او برکت پکې واچوي، والله أعلم، وصلی الله وسلم علی نبینا محمد.

## (د خُطبې اهمیت)

د جمعې منبر: په خلکو باندې د اغیزې له تر ټولو قوي - بلکې پخپله تر ټولو قوي - وسیلو څخه دی که چیرې په سمه توګه وکارول شي، ځکه چې خطیب خلکو ته هره اونۍ یو ځل د لږو یا ډېرو کلونو په اوږدو کې خطاب کوي، او هغوی ورته خپل اذهان پرانیستي او خپلې سینې یې ورته پراخه کړې وي، نو دوی له هغه څخه خپل پام نه اړوي حتی د کانو په لمس کولو سره هم ځان نه مصروفوي، او په تکراري او دوامداره توګه له هغه څخه نصیحتونه، وعظونه، پندونه او عبرتونه تر لاسه کوي.

او هغه بریالی او موفق خطیب چې الله تعالیٰ ورته قانع کوونکي اسلوب او پیاوړی بیان ورکړی دی: له شک پرته به پر دوی خورا ژوره اغېزه وکړي، او ښایي دغه اغېزه پر زده کوونکو باندې د ښوونکي تر اغېزې او د ټولنیزو رسنیو تر اغېزې هم ډیره او پیاوړې وي؛ ځکه چې خطبه له یو لوی عبادت سره تړلې ده چې هغه لمونځ دی؛ او دا چې فصیح، ناصح او بلیغ خطیب له خلکو سره مخامخ خبرې کوي په داسې حال کې چې د دوی په وړاندې ولاړ وي، دوی د هغه د مخ تاثرات او د سترګو کتلویني، نو د اورېدلو او لیدلو د حسونو له لارې پر دوی اغېزه کوي، د دوی زړونو او اذهانو ته لار پیدا کوي، او دوی د خطبې په ټوله موده کې هغه ته

چوپ او په ځير سره غور نيسي، او هغه دوی ته داسې عقلي او نقلي دليلونه او براهين وړاندې کوي چې د هغو له لارې کولی شي - د الله تعالیٰ په اجازه - دوی قانع کړي او د دوی مفاهيم سم کړي.

بريالی او موفق خطيب: هغه څوک دی چې منبر يې د خير او علم خپرولو يوه له ترټولو مهمو دروازو څخه ګرځولی وي او يوازې پر هغه پورې محدود نه وي، بلکې د خپل توان په اندازه د خېر او نيکۍ په هر ډګر کې ونډه او ګډون ولري، چېرته چې خير وي، هغه به يې له مخکښانو څخه ومومې، او چېرته چې د الله لپاره قرباني وي، هغه به يې له سرتېرو څخه ومومې.

نو دا خطيب: هغه څوک دی چې د الله دين ته بلنې او مسلمانانو ته ګټې رسولو ته پاملرنه کوي - لکه څنګه چې انبياء او رسولان (عليهم الصلاة والسلام) او د اسلامي امت لپاره مخلص علماء او دعوتګران وو - او هغه د خپلو اورېدونکو لپاره پر تجديد، جذبولو او تشويق کولو پوره لېواله وي.

نو ډېری داسې خطيبان شته چې د خطيب په شرطونو برابر وي خو خطبه يې هغه پايله نه لري چې تمه ترې کيږي؛ همدا رنګه خطيب ته په کار دي چې دا رسالت په رښتينولۍ او اخلاص سره پر مخ يوسي.

او په هره جمعه کې هغوی ته داسې يوه موضوع وړاندې کوي چې د هغوی احساساتو او اړتياوو سره تړاو لري، او د هغوی زړونه ځانته راجلبوي، او د يوه کال په اوږدو کې

پنځوس ځې له هغوی سره ګوري، نو آیا تر دې وسیلې بله کومه زیاته اغېزمنه وسیله شتون لري؟

نو د حیرانتیا خبره نه ده چې د جمعې خطبه د اسلام له خورا غوره نښانو او الله تعالی ته د دعوت، د هغه د شریعت د تبلیغ، او پر بندګانو د حجت قایمولو له تر ټولو مهمو میدانونو څخه دی، دا هغه څه دي چې د اسلام دښمنان یې هیله کوي د دوی په دین کې هم د دې په څېر څه وای، تر دې چې د هغو ګوندونو یوه مشر چې له اسلام سره جګړه کوي، ویلي دي: «آه، کاش چې زما سره د دې منبرونو په څېر وای؟!».

«علوم او صنایع د خپلو مقاصدو د شرافت او لوړتیا په اندازه شرافت او فضیلت مومي، او خطابت یو ډېر ستر او مهم مقصد لري، چې هغه حقایقو ته د خلکو لارښوونه کول، او هغه څه ته د هغوی هڅول دي چې په دې ژوند او هغه بل اخروي ژوند کې ورته ګټه رسوي.

او خطابت د سیادت او زعامت په وسایلو کې شمېرل کیږي..

نو په خطابت (خطبه ویلو) کې: لوی شرف دی، او د هغې شرف په دې کې دی چې ترسره کوونکی یې ځیرک، عالم او بلیغ وي»[1].

او شریعت پر لمونځ کوونکي واجب کړي چې تاته غوږ ونیسي - اې خطیبه وروره ! رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

---

[1] - "الخطابة عند العرب"، لیکوال: محمد الخضر حسین: 178- 179.

«إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الجُمُعَةِ أَنْصِتْ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ».

«که تا د جمعې په ورځ خپل ملګري ته: چپ شه،وويل: په داسې حال کې چې امام خطبه وايي، نو تا د جمعې فضيلت له لاسه ورکړ». متفق عليه[1] او د لغوتَ معنا ده: يعني د جمعې د لمانځه ثواب نه تر لاسه کوې.

بلکې، خلکو ته سنت دي چې خپل مخونه ستا خوا ته راواړوي، او امام نووي، ابن المنذر او ابن عبدالبر -رحمهم الله- د علماوو اجماع نقل کړې چې دا مستحب عمل دی[2].

## (د رحمٰن ذات ملايکې تا ته غوږ دي، نو د هغوی قدر وکړه)

ستا لپاره همدا افتخار او فخر بس دی -اې د جمعې خطيبه- چې د رحمن ذات ملايکې درته حاضريږي ترڅو ستا خطبو او وعظونو ته غوږ ونيسي، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي، لکه څنګه چې په صحيحينو کې راغلي دي[3]: «کله چې د جمعې ورځ شي د جومات په دروازو کې ملايکې وي او يو د بل پسې -نومونه- ليکي، کله چې امام کيني کتابونه بند کړي او راشي وعظ ته غوږ ونيسي».

او کله چې ته دا احساس کړې: نو ستا په زړه کې به د خطبې قدر او عظمت پيدا شي، او د حق په ويلو، د امانت په ادا کولو،

---

1 - بخاري: (934)، او مسلم: (851).
2 - "المجموع": 4/ 447.
3 - بخاري: (3211)، او مسلم: (850).

خلکو ته په نصیحت کولو، او د هغوی د پروا نه ساتلو او غوړه مالۍ نه کولو باندې به ستا حرص لا زیات شي.

نو ستا په څېر څوک دی - اې مبارک خطیبه -؟

الله پر خلکو تا ته غوږ نیول او ستا خبرو ته چوپ اوسېدل واجب کړي دي، تر دې چې هغوی یې له بوختېدلو څخه منع کړي دي که څه هم د وړو تیږو په اړولو سره وي، او ستا د خبرو پر مهال یې د منکر له مخنیوي څخه هم منع کړي دي، او خپلې ملایکې یې داسې ګرځولې دي چې تا ته غوږ نیسي!

او دا پر تا لازموي چې یوازې د الله تعالیٰ لپاره اخلاص ولرې، او په خپلو خطبو او وعظونو کې بشپړ نصیحت وکړې، او ستا د خطبو اصلي مقصد باید د الله تعالیٰ ذکر، خلکو ته وعظ کول، او هغوی ته د هغوی د دین په چارو او هغه څه پوهاوی ورکول وي چې د هغوی دنیا ورباندې اصلاح کیږي.

***

## (کوم یو غوره دی: د خُطبې ارتجالي ویل که له پاڼې څخه د هغې لوستل؟)

بې له شکه چې له پاڼې څخه د خطیب په لوستلو کې ډېرې ګټې دي، او کېدای شي دا د ډېرو خطیبانو او ویناوالو لپاره تر ارتجالي ویلو ډېره مناسبه وي، او دا یو لیدل شوی او واقعي حقیقت دی.

او ارتجالي وینا د خطیب په تعامل او جذبه کې لوی تاثیر لري، او دا کار –بې له شکه– د اورېدونکو د اغېزمن کېدو،

جذبې او د احساساتو د پارېدو سبب ګرځي، او برعکس يې هم همداسې ده.

او دا څرګنده ده چې کله د اورېدلو او ليدلو حواس د پيغام په ترلاسه کولو کې سره يوځای شي، نو دا د موضوع په درک کولو، اغېزمنېدلو او ذهن کې د معلوماتو په ځای پر ځای کېدلو کې ډېر قوي وي، د دې پر خلاف چې يوازې يو حس وکارول شي. نو هغه خطيب چې ارتجالي (له يادو) خطبه وايي، خلکو ته مخامخ درېږي، او د سترګو له لارې ورته خطاب کوي، د هغه خطيب په پرتله ډېر تاثير لري چې له کاغذ څخه خطبه وايي، او خلک ترې يوازې د اورېدلو له لارې معلومات ترلاسه کوي، او حتی دا ترلاسه کول (اورېدل) هم دومره قوي نه وي لکه څنګه چې د ارتجالي خطيب په حالت کې وي، ځکه چې د هغه غږ ډېر قوي او زيات اغيزناک وي.

او څوک چې څو ځله د ارتجال تجربه وکړي، او په خپل ارتجال کې ډېر تردد، بندېدل يا هېرېدل، او يا وېره او سخت اضطراب ومومي، او ونه ويني چې دا چارې د ورځو په تېرېدو او د ارتجال په ډېر تمرين سره کمېږي، نو خطبې دې ولولي، ځکه هر چا ته د ارتجال توفيق نه ورکول کېږي، او الله تعالی لکه څنګه چې د خلکو تر منځ مادي رزقونه وېشلي دي، د دوی تر منځ يې معنوي رزقونه هم وېشلي دي؛ لکه اخلاق، وړتياوې، استعدادونه او همتونه.

## (اته پراونه (ګامونه) چې په خطابت کې د بریالی ادایني په لور لاره اسانوي او هواروي)

لومړی: پر دې د مرستې لپاره ریښتیني دعا کول، او الله تعالی ته په اخلاص او زارۍ سره پناه وړل.

دویم: په دې کې پر الله تعالی رښتینی توکل، او پر هغه غوره باور کول، او الله تعالی د خپل بنده له ګمان سره دی، او څوک چې پر هغه توکل وکړي، نو هغه ذات ورته بسنه کوي او د هر هغه څه په اړه ورته کافي دی چې ورته اندېښمن وي او غوښتنه یې کوي.

درېیم: ممتازو خطیبانو ته غوږ نیول او د دوی له تجربو څخه ګټه اخیستل.

څلورم: په یوازې ځان خطبه ویل، که څه هم په جومات کې د داخلي غږ لوړونکي له لارې وي، نو دا غوره ده، او که چېرې په منبر باندې وي، نو دا لا ډېره غوره ده.

پنځم: د احساساتو په څرګندولو او د عاطفې په پیاوړي کولو تمرین کول.

او ما په ویناوالی، وړاندې کولو او اثر کولو کې د بریالیو کسانو په تر ټولو سترو رازونو کې فکر وکړ: نو ومې موندل چې د دې راز او لامل -د الله تعالی له توفیق وروسته- د هغو احساساتو پیاوړتیا ده چې دوی یې لري، او په تفصیل سره نه په لنډیز سره، او د شرعي ضوابطو سره سم د خپلو احساساتو په څرګندولو کې د هغوی توان دی.

بېشکه چې د احساساتو پیاوړتیا: د بیان خاوند د هغې ځرګندولو ته هڅوي، او د حکمت خاوند د هغې روښانه کولو ته هڅوي، نو زړونه په خپل سحر سره راجلبوي، او عقلونه په خپل ښایست او کمال سره اسیروي، او د کمزورو احساساتو خاوند؛ ډېر علم یې د هغه د احساساتو په مړینه سره مري، او په خلکو باندې یې اثر د هغه د احساساتو په مړینه سره له منځه ځي.

«نو پر خطیب واجب دي چې: د هغه څه په اړه چې بلنه ورته کوي له جذبې څخه ډک وي، او پر رښتینولۍ یې کلک باور ولري؛ ځکه هغه څه چې له زړه راوځي، زړه ته ننوځي، نو اړینه ده چې د خطیب جذبه د اورېدونکو له جذبې څخه پیاوړې وي؛ ترڅو پر هغوی اغېز وکړي او تنده یې ماته کړي، که نه نو هغوی به د هغه سستي احساس کړي، او د وینا اغېز به یې له منځه لاړ شي».

او د خیالاتو او احساساتو د لیکلو، په یوازېتوب کې له ځان سره د هغوی د ویلو، او بیا یوه خواخوږي ته د هغو د ښکاره کولو له لارې زیات تمرین ته اړتیا ده.

او احساسات هر کله چې بند او قید شي، وچ او ختم شي، او هر کله چې آزاد وي –په دې شرط چې د شرعي ضوابطو سره سم وي– نو راخوټېږي او بهېږي، نو ورقې په لیکنه او تصنیف سره، ممبرونه په خطابت او بیان سره، او خلک په مینه او مهربانۍ سره خړوبوي.

نو –زما خطیبه وروره– خپلو احساساتو او عواطفو ته پوره واک ورکړه؛ ترڅو په تا او نورو کې د ژوند، نوښت، ویښتیا، ودې او رحمت روح راژوندی شي.

نو هغه څوک چې احساسات یې قدرمن شول: اخلاق به یې غوره شي، نفس به یې عزتمند شي، دوستان به یې ډېر شي، دښمنان به یې کم شي، حجت به یې څرګند شي، بلاغت به یې پیاوړی شي، او فصاحت به یې لوي شي.

شپږم: له صادق، عاقل، تجربه لرونکي او خواخوږي شخص څخه د نصیحت غوښتنه کول، چې عیبونه یې ورته وښیي ترڅو ډده ترې وکړي، او ښېګڼې یې ورته وښیي ترڅو پرې ثابت پاتې شي او لا یې زیاتې کړي.

اووم: د خطبې وختي چمتو کول.

اتم: د خطبې چمتو کولو او وړاندې کولو طریقې اړوند کتابونو مطالعه کول[1].

## (د خطبو د وړاندې کولو په پیل کې اندېښنه او اضطراب یو عادي او معمول کار دی)

د خطبو ویلو په پیل کې به تاسو اندېښنه او وېره احساس کړئ، او دا د ټولو انسانانو د طبیعت یوه برخه ده، او ممکن تاسو ته دا احساس پیدا شي چې دا تاسو ته د خلکو د کتلو او د خپلې علمي کمزورۍ د ګومان له اغېزو څخه دي.

---

[1] - وګورئ: المختصر المفيد للمؤذن والإمام والخطيب وأحكام المساجد: 95، https://islamcontent.com/ar/single-content/74839.

او ښايي ستا خفګان او تشويش نور هم زيات کړي: ستا دا احساس چې خلک پدې پوهېږي او له خطيب څخه يې بد ګڼي، او کله کله دا خبره له تا څخه د هغوی د لرې کېدو لامل وګرځي.

او په دې کې هېڅ شک نشته: چې له الله سره ستا د زيات تړاو، پر هغه د توکل، رښتيني دعا، او اوږدمهاله تمرين سره به: وېره په بشپړه توګه له منځه لاړه شي، تردې چې ته به په خطبه کې د خوند اخيستلو مرحلې ته ورسېږې، او د جمعې ورځې ته به سترګې په لار وې ترڅو د خطابت خوند وڅکې.

نو دا بل څه نه مګر صبر دی، تر څو چې د انسان لپاره د توفيق خزانې او د کريم او وهاب سبحانه لورينې پرانېستل شي.

نو په پيل کې د جدي هڅو تنګستيا زغمل، د دې لپاره دي چې په پای کې د نعمتونو، لوړ مقام او نيکمرغۍ پراخي ترلاسه کړې.

او په خپل نفس کې ووايه: له تنګۍ وروسته پرته له خلاصون بل څه نشته، او د سختۍ له منځه تلل دي، او له ستړيا وروسته پرته له راحت بل څه نشته، او دا يوازې د يوې شېبې صبر دی، نو ته صبر کوه او زغم ولره، ترڅو پر منبرونو لوړ شې، او د الله لوري ته بلنه په زغرده بيان کړې، او الله رښتيا ويلي دي، او په خبره کې له الله څخه بل څوک ډېر رېښتونی دی:

﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾

(او کوم کسان چې زموږ په لار کې ځان کړوي، خامخا به خپلې لارې ور وښايو) [العنکبوت سورت: ايت 69].

او قتادة -رحمه الله- ځومره ښکلي ويلي دي: «اې د آدم زويه، که چېرته ته نه غواړې چې نېک کار ترسره کړې مګر په چستۍ سره، نو بېشکه ستا نفس ستړيا، سستۍ او ستومانۍ ته مايل دی، خو مؤمن هغه دی چې پر ځان زحمت باسي، او مؤمن هغه دی چې ځان پياوړی کوي، او مؤمن هغه دی چې پر خپل ځان سختي کوي»[1]. او له متشدد ځخه موخه: يعني د خير په کارونو هغه پابند کس دی، چې پر خپل ځان يې په هغو کې هميشوالی لازم کړی وي.

## (د خطابت له زياتې وېرې ځخه د خلاصون اسباب)

وېره - په ځانګړې ډول په پيل کې - لکه ځنګه چې مخکې تېر شول، يوه ډېره اشنا او معمولي چاره ده، بلکې دا مثبته ده چې د خطبې په پاملرنې او د هغې لپاره په چمتووالي کې مرسته کوي، او پر ځان د حده زيات باور ځخه د نفس سرکشي مهاروي، کوم چې د خلکو د سپک ګڼلو، د علمي موادو کيفيت ته د نه پاملرنې، او د مناسبو الفاظو او معناګانو د نه انتخابولو لامل کيږي.

خو په هره خطبه کې او د اوږدې مودې لپاره د وېرې دوام يوه منفي چاره ده -کوم چې په اوسني عصر کې د ټولنيزې

[1] - "تفسير القرطبي": (251/1). او د قتادة -رحمه الله- اثر، ابو القاسم ابن بشران البغدادي (المتوفى: 430هـ) په "أماليه" (1454) کې روايت کړی دی.

وېرې په نوم يادېږي-: چې بايد د خلاصون لپاره يې اسباب وكارول شي لكه:

لومړی: د الله تعالی لپاره اخلاص، الله تعالی ته پناه وړل او ډيرې دعاګانې كول چې در په برخه كړي او په زړه دې سكون نازل كړي.

دويم: له خطبې څخه مخكې د ځينو اراموونكو څښاكونو لكه نعناع او داسې نورو څښل، ځكه چې دا د اضطراب او ويرې په ارامولو كې اغېزه لري.

دريم: د نيوكو اورېدلو ته ځان چمتو كول، او پرې خوښېدل؛ ترڅو د پرمختګ او نوښت لپاره يوه زينه وګرځي او له تېروتنې څخه نه وېرېدل.

څلورم: وختي راتلل، په دې كې شک نشته هغه خطيب چې وخت ته د ځان رسولو لپاره چټک راځي، ساه به يې لنډه وي، زړه به يې نا ارامه وي او داسې اندېښنه او اضطراب به ورسره وي چې آن د خطبې پر مهال به هم ورسره مل وي.

پنځم: خپل سر پورته كړه ترڅو خلک ووينې، او كله ناكله ارتجالي (پرته له پاڼې) خبرې وكړه، كه څه هم په پيل كې درته ستونزمنه ښكاره شي، يا تېروتنې او تردد ولرې؛ ځكه تل يوازې د ورقې پورې محدود پاتې كېدل، او په زړورتيا سره حاضرينو ته نه كتل، ستا خبرو ته د اورېدونكو لېوالتيا له منځه وړي، او تا به تل د منبر له وېرې او ډار سره مخ ساتي.

او ځينو هغو خطيبانو چې په خطابت کې د کلونو تجربه لري، مګر له هغه څه څخه چې په پانه کې دي بهر نه وځي او اورېدونکو ته نه ګوري، دا څرګنده کړې ده چې دوی د هرې خطبې پر مهال وېره او انديښنه لري بلکې وايي: د انديښنې او وېرې له امله، زه په هره خطبه کې داسې احساس کوم لکه د لومړي ځل لپاره چې خطبه وايم!

خو د خپلو خطبو په پيل کې د خلکو مخونو ته مه ګوره، ځکه کېدای شي ستا نظر پر داسې چا ولګېږي چې ته ترې هيبت لرې نو وارخطا به شې، او کېدای شي تاته د خلکو کتل تا ووېروي؛ بلکې د دوی سرونو ته وګوره، پرته له دې چې د دوی په اشخاصو او سترګو تمرکز وکړې.

شپږم: منبر ته د پورته کېدو پرمهال په هغو منفي شيانو يا تېروتنو فکر مه کوه چې ښايي پېښ شي، بلکې د الله تعالی په اجازه په تمه کېدونکو مثبتو پايلو او هغو سترو ګټو ته فکر وکړه چې د خپلې خطبې له لارې به يې ترلاسه کړې، لکه خلکو ته ګټه رسول، او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د شعيرې په قايمولو او د هغه (الله) لوري ته په بلنې ورکولو کې تاسو ته د الله تعالی توفيق.

اووم: له خطبې مخکې په سمه توګه تنفس وکړئ، داسې چې د پوزې له لارې ژوره ساه واخلئ، بيا د لنډو شېبو لپاره هوا بنده کړئ، او بيا يې ورو ورو بهر وباسئ، دا ډول تنفس د ذهني فشار (اضطراب) په لرې کولو کې خورا ډېره اغېزه لري؛ متخصصينو او د طب پوهانو ذکر کړي دي چې عادي تنفس دماغ ته له اوو څخه تر لسو ليترو پورې اکسيجن

رسوي، په داسې حال کې چې د سم تنفس په حالاتو کې شاوخوا پنځه اويا ليتره اکسيجن رسوي، او دا د تشويش او اضطراب د هورمونونو کچه راټيټوي، او دا چاره تجربه شوې او موندل شوې ده چې د اضطراب، غم او تشويش په لرې کولو کې لويه اغېزه لري.

خو د خطبې پر مهال، هڅه وکړئ ژوره ساه په داسې ډول واخلئ چې د حاضرينو پام ځانته ونه ګرځوي، او هغه داسې چې د مناسبې وقفې پر مهال د خولې يا پوزې له لارې په چټکۍ او زياته اندازه ساه واخلئ، بيا له دې ساه وروسته د خبرو بشپړولو ته دوام ورکړئ، او تقريباً په هره وقفه کې همداسې وکړئ.

## (د هغو ناسمو نيوکو غوره حل چې تاسو ته متوجه کيږي)

که ته قانع شوې -زما خطيب وروره- په هغې پرېکړه کې چې تا کړې ده، يا هغه اسلوب کې چې تا خوښ کړی دی، يا هغې لاره کې چې تا غوره کړې ده، تر غور او فکر، او د تجربه لرونکو کسانو سره تر مشورې وروسته: نو نيوکه کوونکو او ملامتوونکو ته پام مه کوه؛ ځکه چې هېڅوک، هر څه چې وکړې، او هر څومره يې چې قدر او مقام لوړ وي، د خلکو له نيوکو څخه خوندي نه پاتې کيږي.

او که چېرې ته د هغوی نيوکو ته پام وکړې: همت به دې ضعيف شي، سينه به دې تنګه شي، او د پرمختګ او نوښت رغبت به له لاسه ورکړې.

او داسې هيڅ کتاب، مقاله او نه کوم بل عمل شته، مګر دا چې څوک شته چې عيب پکې راوباسي او نيوکه پرې وکړي.

او ته بايد د نيوکه کوونکو سره په نرمۍ او درناوي چلند وکړې، او په هغې طريقه ورته ځواب ورکړې چې ډېره ښه وي، او هغه حق ومنې چې له هغوی سره دی او له دې څخه کبر ونه کړې، که څه هم نيوکه کوونکی ستا په ورانديې د کوم شأن او مقام خاوند نه وي.

## (له خطبې نه مخکې د خطيب لپاره وصيتونه)

اې خطيب وروره! ته بايد له خطبې مخکې ځينې چارې ترسره کړې، ترڅو له الله تعالی وروسته د هغو په مټ په منبر د درېدلو او د خپلو خطبو ويلو لپاره مرسته ترلاسه کړې، چې ځينې يې دا دي:

لومړی: دا په ذهن کې ولره چې ته د الله د پيغامونو رسولو او هغه ته د بلنې لپاره روان يې، او -کله کله- د الله تعالی دا وينا ولوله:

﴿الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلا يَخْشَوْنَ أَحَداً إِلَّا اللَّهَ﴾،

(هغه کسان چې د الله پيغامونه رسوي او ترې ډارېږي او له الله پرته له بل چا نه ډارېږي) او -کله - د الله تعالی دا وينا ولوله:

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾

(او تر هغه زیات غوره وینا والا څوک دی چې د الله په لور بلنه کوي، نېک عمل کوي او وایي چې زه له مسلمانانو څخه یم). [فصلت سورت: 33 ایت].

او د الله تعالی وینا:

﴿قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾.

(ورته وایه: همدغه زما لاره ده چې د الله په لور بلنه کوم، هم زه او هم زما ملګري په څرګند حقیقت (روان یو) او الله لره پاکي ده او زه له مشرکانو څخه نه یم). [یوسف سورت: 108 آیت]

او دا تا د لا زیات اخلاص، همت او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي ته هڅوي، او د خطابت د هغې ستري موخې په پام کې نیولو ته، د کومې لپاره چې الله تعالی خپل پیغمبران او رسولان رالیږلي دي، چې هغه د دین تبلیغ او خپرول دي، او دا په دنیا کې تر ټولو ستر منصب دی.

دویم: منبر ته د پورته کېدو څخه لړ مخکې له الله تعالی څخه دعا وغواړه چې تاته اخلاص، توفیق او سمه لار در په برخه کړي او په هغه څه چې ته یې وایې تا او نورو ته ګټه ورسوي؛ ځکه چې ډېر داسې خطیبان او ویناوال شته چې له خپلو خبرو څخه پند نه اخلي، او که پند هم واخلي، نو خپلې ویلې شوې خبرې ژر هېروي، په ځانګړې توګه کله چې پرې ډېر وخت تېر شي.

او تل له الله تعالی څخه سوال کوه: چې تا د فصاحت او بیان خاوند کړي.

دريېيم: غالبا له خطبې ورکولو څخه ډېر وخت مخکې د خطبو د يوې ټولګې چمتو کول او کېداى شي د هغو د چمتو کولو او ويلو ترمنځ مياشتې يا کلونه وي.

او دا ځکه چې کله کومه موضوع ستا ذهن ته درشي، يا د لوستلو پر مهال له کومې ارزښتناکې فايدې سره مخ شې، يا کوم حديث ستا پام راجلب کړي، يا په کوم آيت کې چې تا تأمل کړى وي: نو هغه سمدستي پرته له ځنډه وليکه، ځکه چې په دې وخت کې احساسات په جوش کې وي، او افکار حاضر او له يو بل سره تړلي وي، او که چيرې په هغه وخت کې ليکنه وځنډوې، نو افکار او خيالونه به ضايع شي، او د هغو راياداول او ذهن ته راوستل به ستونزمن شي، بيا هغه څه وليکه چې خاطر يې درته وړاندې کوي، بيا له هغې وروسته د علمي موادو په راټولولو پيل وکړه -بې له تکلفه- له قرآن او سنت او هغو علماوو له ويناوو څخه چې د هغوى د کتابونو، يا هغو کتابونو د لوستلو پر مهال دې د هغوى ويناوې موندلې دي چې له دوى څخه يې نقل کړې دى، او د اړتيا پر مهال په المکتبة الشاملة، يا انټرنټ کې پلټنه وکړه.

او قرآني آيتونو، نبوي حديثونو، د سلفو ويناوو او آثارو، تاريخ او د معاصرو رباني علماوو خبرو ته پاملرنه وکړه، او په ځانګړې توګه په هغه څه کې چې په نويو پېښو او حوادثو پورې اړه لري.

نو هغه څه چې مو د خطبې له موضوع سره اړوند وموندل: هغه واخلئ او په کمپيوټر کې يې په يوه فايل کې، پرته له ترتيب او تدقيق څخه کېږدئ.

او تل د هغو موضوعاتو او فايدو په اړه همداسې کوه چې ذهن ته دې درځي يا درباندې تيريږي، او په همغه وخت کې هغه څه وليکه چې ذهن ته دې راځي، پلټنه وکړه او هغه څه وليکه چې توان يې لرې، بيا يې پرېږده او خپل معمول لوستلو ته دوام ورکړه، نو که چيرې کومه فايده، يا آيت، او يا حديث ومومې چې د هغو خطبو څخه په کومې يوې پورې تړاو ولري چې تا ليکلې وي يا دې د هغې ځينې برخې ليکلې وي: نو هغه ورسره اضافه کړه.

نو کېدای شي خطبه له تا سره څو کلونه پاتې شي، او په خپلو درسونو، محاضرو يا خبرو کې يې وايه، نو د هغې په ترڅ کې به درته داسې لطايف او ګټې روښانه شي چې تر دې مخکې به دې په ذهن کې نه وي تېرې شوي، او هغه څيزونه به در په ياد شي چې هېر کړي دې وو، او کله چې يې د جمعې په خطبه کې وايې، نو -د امکان تر حده- به چمتو او بشپړه وي.

څلورم: دا په بشپړه توګه يا برخه برخه په جوماتونو يا خپلو ځانګړو مجلسونو کې د ويناوو له لارې وړاندې کړئ، او له دې څخه هدف دا دی:

أ- د معلوماتو ضبطول او حفظول.

ب- په خلکو کې د هغې خپرول، او په ځانګړې توګه په هغو جوماتونو کې چې جامع جومات ته نږدې نه وي چې ته په کې خطبه وايې، او غالباً ستا د جماعت والا ورته نه حاضريږي.

ج- د موضوع په پوره څېړنه کې زیاتوالی، او غالب ګومان دا دی چې کله ته هغه بیان کړې نو د خبرو په مینځ کې او یا له هغې وروسته به تاته داسې مهمې چارې څرګندې شي چې په اړه یې خبرې کول په کار دي، او یا به د هغه چا لخوا پوښتنه او استفسار وي چې دا یې ستا څخه اورېدلې وي.

پنځم: د جمعې په ورځ د خطبې له وخت څخه تقریباً دوه ساعته مخکې یې داسې ولوله لکه په خطبه کې یې چې لولې.

شپږم: په څېړنه او اضافي چمتووالي کې له تکلف څخه پرهیز وکړه، او خپله اصلي موخه دا وګرځوه چې داسې مواد راټول کړې چې لومړی تا ته ګټور وي، او بیا د اورېدونکو بېلابېلو طبقو ته ګټه ورسوي.

او ما په هر څه کې تکلف زیان رسوونکی او ګران لیدلی دی، او اکثراً خپل خاوند پرېکون، یا ستومانی او سستی ته رسوي.

## (د خطبې پر مهال د خطیب لپاره لارښوونې)

څو چارې شته چې ته یې باید د خطبې پر مهال ترسره کړې، چې ځینې یې دا دي:

لومړی: د احساساتو په جوړولو او پټولو کې تکلف مه کوه کله چې د کیسو، حالاتو او عبرتونو پېښې تجربه کوې، او د سیاق سره سم خپل احساسات د خپل مخ د حالتونو، د سترګو د څرګندونو او د خپل غږ د انداز د بدلون له لارې څرګند کړه.

او پوهه شه چې څومره ستا بیان په خپل طبیعي حالت کې وي، او په هغې کې له تکلف څخه ډډه وکړې: هغومره به یې

اغېزه زياته وي، نو په خپل هغه طبيعت اوسه چې پرې لوی شوی يې، او هغه اسلوب وکاروه چې له خطبې پرته د خبرو اترو په وخت کې يې کاروې، د غږ لوړوالي او ټيټوالي او د بيان د ښه والي په پام کې نيولو سره.

او ډېری خطيبان د خطبې لپاره داسې مېتود غوره کوي چې د دوی له معمول مېتود څخه په بشپړه توګه توپير لري، لکه هغوی چې فکر کوي خطابت يو تکراري اسلوب دي او خپل ځانګړی طرز لري، او دا کار د دې لامل ګرځي چې په اورېدونکو خپله اغېزه له لاسه ورکړي او د هغوی زړونو ته لار ونه مومي.

دويم: خطبه په پرله پسې توګه مه وايه، او نه هم پکې دومره چټکتيا کوه چې اورېدونکي يې له بشپړ اورېدلو څخه بې برخې شي، خطبه په ارامۍ سره وايه، د اړتيا پر مهال لنډ وقفونه کوه، او د مناسب ځای سره سم د غږ کچې ته پاملرنه وکړه، نو که چېرې حالت داسې غوښتنه کوله خپل غږ لوړ کړې او په خبرو کې چټکتيا راولې نو غږ لوړ کړه او خبرې په چټکۍ سره وکړه.

درېيم: د خطبې وخت په دقت سره محاسبه کړه، او له اړتيا پرته وينا مه اوږدوه.

څلورم: کله چې د خطبې پر مهال د لمونځ کوونکو څخه ځينې سرغړونې ووينې، نو په نرمۍ سره يې يادونه وکړه، لکه دا چې د خطبې پرمهال څوک ووينې چې خبرې کوي، نو د دې تېروتنې په اړه په عمومي توګه يادونه وکړه.

## (له خُطبې وروسته خطیب ته وصیتونه)

څو چارې دي چې باید له خطبې نه وروسته یې ترسره کړې، چې ځینې یې دا دي:

لومړی: پر هغه توفیق د الله تعالی ستاینه کول چې د خطبې په ادا کولو کې یې پر تاسو لورولی دی.

دویم: له ویلو وروسته خپلو خطبو ته غوږ نیول، په دې موخه چې مثبت اړخونه یې ولټوئ ترڅو هغه پیاوړي او ټینګ کړئ، او منفي اړخونه یې ولټوئ ترڅو مخنیوی یې وکړئ او ډېره ترې وکړئ.

او دا ټول:

لومړی: د خطبې د مقام د درناوي په خاطر، نو په اسلام کې د هغې خپل قدر او حیثیت دی.

او دویم: د هغو لمونځ کوونکو احترام کول، چې د خپل رب د اطاعت، د خپل خالق ندا ته د لبیک ویلو، او د هغه څه د اورېدو سره د محبت له امله راغلي دي چې له تا سره دي.

او همدا راز کولای شي چې هغه یو صادق نصیحت کوونکي ته راجع کړې، تر څو پکې شته مثبت او منفي اړخونه دروښيي.

همدارنګه، که د هغې ثبتول او خپرول شوني وي، په ځانګړې توګه په هغو هېوادونو کې چې خطیبان پکې کم وي، باید خپره شي تر څو هغه عام خلک ترې ګټه واخلي چې له تاسي سره لمونځ نه ادا کوي، او په غړیزه او لیکلې بڼه دې خپره شي.

او که ورته په ټولنیزو رسنیو کې یوه پاڼه، او همدارنګه یوه ځانګړې وېبپاڼه جوړه کړي، نو ښه ده.

همدارنګه، له هغو وېبپاڼو سره همکاري کول چې خطبې خپروي، او په دغو وېبپاڼو کې د خپلې خطبې خپرول، په ځانګړې توګه ژباړل شوې خطبې، د هغو د کمښت له امله.

## (د خطیب او د الله تعالی لوري ته بلونکي لپاره عمومي نصیحتونه)

تاته –زما وروره د جمعې خطیبه– دا نصیحتونه دي چې یوازې زموږ لپاره د هغو یادونه ده:

### [1](زېرى ورکړه او خلک مه زړه توري کوه)

موفق او بریالی خطیب هغه دی چې زېرى ورکوي او خلک نه متنفر کوي، په خلکو کې د نیک فال او هیلې روحیه خپروي، هغه چې د نا امیدۍ او سستۍ دورې لیرې کوي، او پر زیار او عمل کولو یې هڅوي.

ای خطیبه وروره ! پام کوه چې ستا د خطبو موضوعات د هغو ناخوالو، مصیبتونو او منفي اړخونو شاوخوا ونه څرخي چې کېدای شي په هر زمان او مکان کې پېښ شي، بلکې د خپلو خطبو لویه برخه پر هیله منډۍ او د اخلاقو، سلوک او اشخاصو د روښانه بېلګو پر ذکر کولو متمرکز کړه، ترڅو خلک دا اخلاق، سلوک او دا اشخاص د ځان لپاره قدوه او لارښود وګرځوي.

1 - أبو داود: (531)، او ابن ماجه: (987)، او أحمد: (17906)، او نورو روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی دی.

او که چېرې کومه تېروتنه ووینې، نو په شرعي طریقه او مناسب اسلوب سره هغې ته په پام اړولو او خلکو ته ترې خبرداری ورکولو کې کوم باک نشته.

## (عام خلق د خپلو سترګو وړاندې ودروه)[1]

عام خلک -الله تعالی دې وساته- تل په خپل نظر کې ولره: ځکه چې هغوی ستا د خطبو او نصیحتونو لپاره تر ټولو مستحق او وړ دي؛ د نبي صلى الله عليه وسلم د هغه قول له مخې چې عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه ته يې فرمايلی دی، کله چې هغه د خپل قوم امام وګرځول شو:

"وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ".

«او د هغوی د تر ټولو کمزورو خلکو رعایت وکړه»[2].

دا ده چې: د کمزورو کسانو حالت په پام کې ونیسه، او داسې لمونځ ادا کړه چې پر هغوی سخت نه وي، او د کمزورۍ پوهې د خاوندانو مراعات کول د کمزورو بدنونو د خاوندانو له مراعاتولو څخه کم اهمیت نه لري.

او که چېرې ته د هغوی د غوره او خاصو خلکو، او د خپلو محبانو او شاګردانو رعایت وکړې، او عامو خلکو ته پاملرنه ونکړې؛ نو بېشکه چې دا به تا له څو خطرونو سره مخ کړي.

لومړی: د الفاظو په غوره کولو کې تکلف کول، سجع جوړول او د داسې موضوعاتو ټاکل چې د عامو خلکو د

---

1 - "مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين": (2/ 66).

2 - "صيد الخاطر": 67.

اکثریت او د هغوی په څېر کسانو پر ځای، یوازې د خاصو خلکو له کچې سره مناسب وي.

دویم: عام خلک له هغه څه څخه محروموول چې هغوی ته ګټه رسوي، لکه وعظونه او د ټولنیزو قضایاوو حلول؛ ځکه چې ته په هغه څه مشغول شوې چې لوستو کسانو او نورو ته مهم دي، نو هغوی غواړي د علومو د دقیقو مسائلو او استنباطاتو، او د نویو او عجیبو شیانو په اړه خبرې واوري، او ځینې یې بیا غواړي د سیاست او په واقعیتونو کې د ډوبېدو په اړه خبرې واوري، او دا به هغوی ته نه په دین کې کومه ګټه ورسوي او نه په دنیا کې.

دریم: د نیت فساد، د دې پر ځای چې خالص د الله لپاره وي، ستا د مینه والو مراعاتولو او هغه څه ته متوجه شې چې هغوی خوشحالوي او راضي کوي.

نو کله چې ته له خپلو خطبو سره د خلکو خوښې او لېوالتیا وګورې، او هغو ته د حاضرېدو او اورېدو لپاره د هغوی له یو بل څخه مخکې کېدل ووینې، بې له شکه چې ته به هغوی په پام کې ونیسې، او داسې خطبه به ورکړې چې دوی پرې راضي شي.

او په هغه وخت کې الله تعالی ستا څخه برکت او قبولیت، او نفع او فایده اخلي.

او د عامو خلکو ګټې ته د خطیب پاملرنه په دې معنی نه ده چې هغه دې پر هغو مهمو مسایلو بحث ونه کړي چې ښایي د دوی د ډېرو د پوهې له کچې څخه لوړ وي، او کېدای شي

ځيني متخصصين لکه د علم زده کوونکي، مسؤلين او داسې نور ترې ګټه پورته کړي؛ مګر د اړتيا له مخې.

[1] *(په ځان له مغرور کېدلو او يا د خلکو لخوا ستا په ستاينه له مغرور کېدلو څخه ځان وساته)*

کله چې د جمعې خطيب پر منبر خېژي، او د خلکو ګڼه ګونه ويني چې ورته حاضر شوي، د هغه قصد يې کړی او ورته متوجه شوي دي، او په هغوی کې عالم، ډاکټر، مشر، قاضي، شتمن او مسؤل ويني: نو ښايي چې په خپل ځان کې د عُجب (ځان خوښوني) احساس وکړي، په ځانګړې توګه کله چې پوه شي چې ډېری يې د ده لپاره راغلي دي، نو په هوښيار خطيب لازمه ده چې له عُجب او غرور څخه په الله تعالی پناه وغواړي، او هره جمعه له خپل نفس سره مجاهده وکړي ترڅو له عُجب او ځان ليدني څخه ځان خلاص کړي، او فضل الله تعالی ته راجع کړي، هغه ذات چې خلک يې د ده لور ته متوجه کړي دي.

ځينو سلفو ويلي دي: «که ته خلکو سره کيناستې، خپل زړه او نفس ته نصيحت کوونکی اوسه، او پر تا باندې د دوی راغونډېدل دې تا مغرور نکړي؛ ځکه چې دوی ستا ظاهر ګوري، او الله ستا باطن څاري»[2].

نو الله عز وجل ته اخلاص وکړه، او خپل ايمان پياوړی کړه، او پکار ده چې ځان وساتې: د خلکو لخوا ستا په ستاينه

---

1 - مسلم: روايت کړی دی (2642).
2 - "جامع العلوم والحکم" د ابن رجب: 84 /1.

له مغرور کېدلو څخه؛ ځکه چې ډېرى خلک کله چې ستاينه کوي له حده اوړي، او ته په خپل ځان تر هر چا ښه پوهېږې!

ابن الجوزي -رحمه الله- فرمايلي: «او تر ټولو لوى ازمايښت د عامو خلکو ستاينې دي، چې څومره ډېر خلک يې غولولي دي!»[1].

او دا کوم عيب نه دى چې ته پر خپل ځان يا خپلو خطبو باندې د خلکو په ستاينه خوشحاله شې، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل شول: د هغه سړي په اړه څه وایاست چې د خېر کار وکړي، او خلک يې پرې وستايي؟ هغه وفرمايل:

«تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ» .

«دا د مومن عاجل زېرى دى»[2].

نو کله چې مؤمن عمل وکړي «عمل يوازې د الله لپاره خالص وي، بيا الله د مؤمنانو په زړونو کې د هغه ښه ستاينه واچوي، نو د الله په فضل او رحمت خوشحاله شي، او په دې سره خوښ شي، نو دا هغه ته زيان نه رسوي».

بلکې عيب او ګناه دا ده: کله چې د هغوى په ستاينه په تا کې غرور پيدا شي، نو په خپله هڅه او عمل خوشحاله شې، او د فضل نسبت خپل ځان ته وکړې، او ستا خوښي د الله تعالى په هغه فضل، رحمت او کرم نه وي، کوم چې تاته يې خېر در په برخه کړ او درته محبوب او اسانه يې کړ.

---

1 - مسلم (869) روايت کړى.

2 - "أصول الإنشاء والخطابة"، د ابن عاشور: ( 126: مخ).

او د عجب په ناروغۍ ستا د اخته کېدو نښه: له نیوکو څخه مخ اړول، او د نصیحت کوونکي نصیحت بد ګڼل دي.

*[1](په هغه څه خبرې وکړه چې هغوی ته په دین او دنیا کې ګټه رسوي)*

هغو کسانو ته چې راغلي تر څو ستا خبرو ته غوږ کېږدي، هغه څه واوروه چې په دین او دنیا کې ورته ګټه رسوي، او د تیارۍ پر مهال له خپل نفس څخه پوښتنه وکړه: زه به خلکو ته د دوی په دین او اخلاقو کې څه ګټه ورسوم کله چې له جومات نه بهر ووځي؟

او له هغه څه نه چې دوی ګټه نه پورته کوي، نو د هغه یادونه مه کوه.

نو دوی به څه ګټه ترې واخلي، که چېرې ته مثلاً د سیاست په باریکیو کې خبرې وکړې، او یا د مسلمانانو د مصیبتونو په اړه ډېرې خبرې وکړې؟

او دوی به زما د هغې موضوع له وړاندې کولو څه ګټه ترلاسه کړي چې ګونګه وي، د حساسیت او پر خپل نفس د هغې له څرګندولو څخه زما د وېرې له امله، نو زه داسې اشارې او کنایې راوړم چې له خاصو پرته پرې بل څوك نه پوهېږي؟

او دوی به څه فایده واخلي کله چې زه واکمن ته د عامو خلکو په وړاندې نصیحت وکړم، که په ښکاره ډول وي او یا

---

[1] - بخاري: (3568)، او مسلم: (2493) کې روایت کړی دی.

په اشاره ، او واکمن ته په ښکاره توګه له نصيحت کولو څخه سلفو صالحينو منع کړې ده؛ ځکه چې دا ډيرى وختونه فتنې راپاروي، او خطيب ته ضرر رسوي.

### [1] *(د خطبې په وخت کې د ارامتيا خيال ساتل)*

بايد د خطبې په وخت کې ارام واوسې، او د احساساتو تر اغيز لاندې رانه شئ چې له املا يې له موضوع څخه بهر شئ، يا داسې خبرې وکړئ چې وروسته پرې پښېمانه شئ، او که چېرې د خطيب احساسات شدت ومومي، نو هغه به اکثراً خپل تمرکز او پر خپلو خبرو کنټرول له لاسه ورکړي، او کېداى شي غږ يې دومره لوړ شي چې ډېرى اورېدونکي وځوروي.

### [2] *(د خُطبې له اوږدولو څخه ځان ساتل)*

نبي صلى الله عليه وسلم به خطبه لنډه کوله، او د هغه ملګرو -رضي الله عنهم- او له دوى وروسته د امت سلفو -رحمهم الله تعالى- هم همداسې کول.

ابو وائل رحمه الله وايي: موږ ته عمار رضي الله عنه خطبه وويله، نو ډېره لنډه او ژوره يې وويله، کله چې راښکته شو نو موږ وويل: اې ابو اليقظانه! يقيناً تا ډېره ژوره او لنډه وينا وکړه، نو که لږه دې اوږده کړې واى؟ هغه وفرمايل: بېشکه ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې:

---

1 - "زاد المعاد في هدي خير العباد": 1/ 409-410.

2 - "مخکېنى مرجع": 1/ 386.

«إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ، وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ، وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا» .

«د يو سړي د لمونځ اوږدوالی او د خطبې لنډوالی د هغه د فقهې (پوهې) نښه ده؛ نو لمونځ اوږد کړه او خطبه دې لنډه کړئ، او بېشکه چې ځينې بيانونه جادويي (اغېز) لري».

د هغه وينا: (تَنَفَّسْتَ): يعنې خطبه دې اوږده کړه.

د هغه وينا: (مَئِنَّةٌ): يعنې نښه، (د هغه له فقهې څخه): «يعنې: له هغه څه څخه چې د يو سړي فقه پرې پېژندل کيږي، او هر شی چې پر يو څه دلالت وکړي نو هغه د هغه لپاره نښه ده.

او د خطبې لنډوالی درې ارزښتمندې فايدې لري:

لومړی: د سنت متابعت.

دويمه: د خطبې د چمتو کولو اسانتيا، او د هغې د چمتو کولو پر مهال، د وړاندې کولو په ترڅ کې، او ترې له فارغېدو وروسته د رواني آرامۍ ترلاسه کول.

او ډېری خطيبانو به د جمعې د ورځې له سهار يا له هغې مخکې د خطبې د چمتو کولو لپاره اندېښنه درلوده او ذهني به بوخت وو، خو کله چې يې خطبه لنډه کړه، او له لسو دقيقو څخه يې اوږده نه کړه، نو ټوله اندېښنه يا ډيری برخه يې له منځه لاړه.

دريمه: په اورېدونکو اساني کول، نو نږدې ټول خلک په دې متفق دي چې له هغه چا سره د راحت احساس کوي چې

لنډه خطبه ورکوي او له هغه چا څخه ناخوښه کېږي چې اوږده يې کړي.
او د خطيب او اورېدونکو لپاره مناسب وخت تقريباً د لسو دقيقو څخه تر يوې ربعې (پينځلسو دقيقو) پورې دی؛ ځکه چې خلک نږدې په دې اتفاق لري چې د خطبې لنډوالی د هغې د اوږدوالي په پرتله دوی ته ډېر خوښ او پر دوی اسانه دی.

## (له نا اشنا خبرو څخه ډډه وکړه)

له نااشنا خبرو ډډه وکړه: ځکه چې خلک له تا څخه داسې خبرو ته اړتيا نه لري، او هغوی ته به هيڅ ګټه ونه لري، او کېدی شي چې ستا زړه يې بيانولو ته ليوالتيا ولري.
معتبرو اديبانو او بليغانو د ناشنا خبرو کولو په اړه خبرداری ورکړی.

## (له سجعې او تکلف څخه ډډه وکړه)

سجع: «د منثور کلام د فاصلو په يوه وزن برابرولو» ته ويل کېږي، او حکيم شارع د سجعې له تکلف څخه منع فرمايلې او اديبانو او بليغانو مکروه ګڼلې ده «ځکه چې سجع د الفاظو له تکلف څخه خالي نه وي کوم چې د اورېدونکو ذهن د معناګانو له بشپړ پوهاوي څخه بندوي، نو که چېرې په دې کې سجع ښښل کېږي، نو دا به يوازې هغه سجع وي چې له تکلف پرته په طبيعي ډول پېښيږي، يعنې هغه سجع چې له متکلم څخه خپله صادرېږي، نه هغه چې متکلم يې غوښتونکی وي».

نو له جوړې شوې سجعې ډډه وکړه؛ ځکه چې جوړول يې تا سترې کوي او اوريدونکي هم تکليفوي تر څو پرې پوه شي، نو که چېرته په اسانۍ سره په خپله ذهن ته درغله، او په ژبه هم له تکلف پرته راغله، اوريدونکي پرې هم پوهېدل، نو باک نه لري.

### (د ظاهر سمون ته پاملرنه)

د خپل بهرني مظهر اصلاح ته د خطيب پاملرنه خپل داخلي باطن ته د هغه له پاملرنې کمه نه ده، او د ظاهر سموالی يا فساد يوازې د باطن د سموالي يا فساد پايله ده، او د خطيب د مظهر اصلاح په لاندې څيزونو سره کيږي:

لومړی: له مبالغې يا اسراف پرته د جامو ښکلا او پاکوالی.

دويم: په پاکوالي او خوشبويۍ، د برېتانو په خريلو يا لنډولو، او د ږيرې په اوږدولو سره د خپل بدن ښايسته کول.

دربيم: له جوماته بهر، خطبې ته د ننوتلو او له هغې وروسته پر خلکو د سلام اچولو پر مهال، په ورين تندي او موسکا سره خپل مخ ښکلی ساتل دي؛ ځکه چې رښتينې موسکا، ورين (پراخه) تندی او ښه رويه، خلکو کې د خطيب او د هغه د خطبو او نصيحتونو محبوبيت پيدا کوي، او دا د هغه چا لپاره عبادت دی چې د الله تعالی لپاره پکې اخلاص ولري، او همدا چاره ده چې عقلونه او زړونه خپلوي. د ورين تندي خاوند کړنې ستايل کيږي او وړې تېروتنې يې زغمل کيږي، پر خلاف د هغه چا چې تريو تندی او ګونځې مخ ولري، نو هغه له داسې کسانو څخه دی چې پناه ترې غوښتل

کېږي، او ورسره د مخ کېدو پر مهال پر زړه باندې غمونه او تنګي خپرېږي.

نو - زما خطيب وروره -: په ورين تندي اوسه، نو د سينې پراخوالی، تا ته د خلکو راماتېدل، د هغوی په وړاندې ستا ښه يادونه، ستا د لارښوونو او وعظونو منل، او ستا د غلطيو ښوېېدنو لپاره به د هغوی عذرونه لټول وويني.

ځلورم: د تګ، منبر ته د ختلو او پرې د کېناستلو پر مهال د هغه تواضع او ادب، او د ناستې او خطبې پر مهال خلکو ته په ښه توګه مخامخ کېدل.

د يادونې وړ ده چې: ځينې خطيبان چې کله د خطبې څخه مخکې کېني، داسې ناسته کوي چې ښکاري د خلکو پر وړاندې بې پروا دی، او د خلکو مخونو ته په کتلو بوخت وي، او کله چې خطبه پيل کړي نو خلکو ته په داسې نظر ګوري چې حس کړي پر وړاندې يې بې پروا دی او ګواکې اورېدونکو ته دا احساس ورکوي چې دی زړور او با جرأته دی، او په تنده لهجه او لوړ غږ ورته وينا کوي او نېغ په نېغه ورته امر کوي او يا يې منع کوي، دا ډول اسلوب نفسونه نه مني، بلکې کرکه ترې کوي.

پنځم: له اړتيا پرته بېرې ته له لاس وروړلو او پرې لاس راښکلو څخه ډډه کوي، په ځانګړې توګه پر منبر د ناستې پر مهال شاوخوا ته ډېر لېدل؛ ځکه چې دا د خطيب هيبت کموي، او يا مخې ته د ناستو کسانو پر وړاندې بې پروايي څرګندوي.

شپږم: په نرمۍ او ادب سره مسواک وهل، او ځينې خطيبان -الله دې ورته هدايت وکړي- کله چې جوماټ ته ننوځي، په

داسې حال کې ننوځي چې په ښکاره او د پام وړ ډول مسواک وهي، او ځينې يې بيا د خطبې تر پيلولو لږ مخکې پورې مسواک وهلو ته دوام ورکوي، چې له امله يې د مسواک ځينې برخې په خوله کې پاتې شي، او بيا يې د خطبې ورکولو پر مهال راوباسي، چې دا يو ناوړه کار دى، او کېداى شي د خلکو او د خطبې د عظيم مقام په وړاندې د هغوى بې پروايي او بې اعتنايي وښيي.

اووم: په لباس کې د جامو په نه ښکته کولو او په ږيره کې د هغې په اوږدولو سره د سنتو پيروي کول، ځکه خطيب يوه بېلګه ده، او خلک به څنګه د هغه چا پيروي وکړي چې عمل يې د هغه له وينا سره مخالفت کوي، او خلک به څنګه د هغه چا په خبرو اغېزمن شي چې خبرو يې پر خپل ځان اغېز نه وي کړى؟!

اتم: د خبرو پر مهال د بدن سکون؛ ځکه چې دا د نفس پر سکون دليل دى.

## (د خُطبې چمتو کولو د وخت توپير)

د خطبې چمتو کولو وخت: د خطيب د ثقافت او علم، او د هغو موادو له مخې چې دى يې وړاندې کوي، توپير لري؛ نو دا مواد له دوو ډولونو څخه خالي نه دي:

لومړى: دا چې علمي وي، لکه فقهي يا عقيدتي مسايل او د هغو تأصيل (يعنې شرعي ريښو او عامو دلايلو ته يې ورګرځول تر څو پرې شرعي حکم بنا شي)، نو دې ته بايد داسې وخت ورکړل شي چې د هغې له مقام سره مناسب وي،

او په کار نده چې بې ارزښته وګڼل شي، او له خطبې څخه یوازې څو ساعته مخکې چمتو شي.

دویم: دا چې وعظي یا تولنیزه او دې ته ورته وي، نو زیاتره د هغې د برابرولو وخت لنډ وي.

او په خطابت کې نوي پیل کوونکي ته زما نصیحت -هغه څوک چې کافي تجربه او پوهه نه لري- دا دی چې په پیل کې د مخکینیو له خطبو څخه استفاده وکړي، او د هغه چا خطبې چې دی ترې استفاده کوي، باید درې ځانګړتیاوې ولري:

لومړی: باید لنډه وي، ترڅو یې ورته وړاندې کول آسان وي.

دویمه: دا چې له نحوي او علمي پلوه سمه وي.

دریيمه: باید په لفظ او مضمون کې له تکلف څخه لرې وي.

او د ورځو په تېرېدو سره کوم باک نه لري چې کوم ځای کې تعدیل او یا زیاتوالی مناسب وګڼي، نو تعدیل یې کړي، بیا وروسته هڅه وکړي چې خطبه په خپله ولیکي، او له هغو کسانو (له تجربو)ګټه پورته کړي چې تر ده مخکې وو.

### (اورېدونکو ته د مستقیمو امرونو له کولو څخه ډډه کول)

الله دې وساته او سمه لار دې درته وښيي، له هغو الفاظو ډډه وکړه چې پکې له ویونکي پرته اورېدونکو ته امرونه وي؛ لکه: ویې کړئ، یا یې مه کوئ، او پر ځای یې : راځئ چې ویې کړو، او راځئ چې پرې یې ږدو، او داسې نور الفاظ وکاروه؛ ځکه دا صیغه اورېدونکو ته ستا د عاجزی احساس ورکوي، او دا چې ته هغوی ته همغه خبر خوښوې لکه د ځان

لپاره يې چې خوښوې، او دا چې ته په دينداری او اخلاقو کې له هغوی پورته نه يې.

او موفق خطيب: خپله وينا مخکې له دې چې نورو ته متوجه کړي، خپل ځان ته يې متوجه کوي، او مخکې له دې چې نورو ته وعظ وکړي، خپل ځان ته وعظ او نصيحت کوي، نو په خطبو کې يې خپله وينا لومړی ځانته متوجه وي بيا نورو ته، نو کله چې يې داسې وکړل الله تعالی به يې (رتبه) پورته کړي او په هغه څه به ګټه ور ورسوي چې دی يې وايي او هدايت، قبوليت او رښتينولي به يې نوره هم زياته کړي.

### [1](په خطابت کې تقليد کله ښه او کله بد وي؟)

په اسلوب او موادو کې د کوم ځانګړي خطيب تقليد مه کوه، ځکه کېدای شي کوم څه چې د هغه لپاره مناسب وي، ستا لپاره مناسب نه وي، او تقليد ستا نوښت او استعدادونه له منځه وړي، نو د هغو وړتياوو، استعدادونو او علم له مخې خطبه ووايه چې ستا رب تاته درکړي دي.

اما د مبتدي لپاره: کومه پروا نشته چې په اسلوب او موادو کې له نورو ګټه واخلي، خو بايد چې کټ مټ د هغوی کاپي ونه ګرځي، بلکې هغوی دې د خپل ځان د پرمختګ لپاره مرستندوی وګرځوي.

1 - "الخطابة عند العرب"، لمحمد الخضر حسين: 189.

**(له تا سره د حاضرینو په کموالي مه خپه کېږه، او د هغوی په ډېروالي مه خوشالېږه)**

پوه شه - الله دې ستا په وسیله خلکو ته ګټه ورسوي -: چې نفس د ډېرو اورېدونکو او حاضرینو غوښتنه کوي، او په ځانګړې توګه ستا د خپلوانو او ملګرو څخه، او کېدای شي تا د دوی د حضور په اړه یوښتنه هم کړې وي، یا دې د دوی څخه د کوم یوه په نه راتګ - که څه هم په خپل زړه کې وي - ګیله کړې وي، نو له دې ناروغۍ څخه د خلاصون لپاره د خپل نفس پر وړاندې مبارزه وکړه، ځکه ستا څنګ ته د هغه نه حضور په دې مانا نه دی چې ته ضعیف یې، بلکې له دې امله دی چې هغه د بل خطیب سره آرامي تر لاسه کوي او ګټه ترې ویني، یا دا چې د هغه کور ته د نږدېوالي او یا نورو اسبابو له امله وي.

او رښتینی خطیب: کله چې واوري چې خلک بل چا ته حاضرېږي نو خوشحالیږي، او له الله تعالی څخه ورته د توفیق او ګټې دعا کوي، او کله چې د هغه په اړه په خیر پوه شي نو ستاینه یې کوي.

او کله چې ته له ځان سره د حاضرو خلکو کموالی او له تا څخه د خلکو بې رغبتي ووینې: نو خپل ځان سره محاسبه وکړه، ځکه چې کېدای شي دا نیمګړتیا ستا له لوري وي، یا ستا د اسلوبو د کمزورۍ له امله، یا د هغو مطالبو د کمزورۍ له امله چې ته یې وړاندې کوې، یا ستا د اوږدو خطبو له امله، یا ستا د کمزوري اخلاص له امله او یا هم له دې پرته د نورو اسبابو له امله.

او له رښتینو او نصیحت کوونکو ورونو څخه نصیحت وغواړه، او له هغوی څخه وغواړه چې ستا خوا ته حاضر شي، یا ستا خطبه واوري، او په رښتینولۍ سره ترې وغواړه چې خپل ملاحظات او نظرونه درکړي، نو د الله تعالی په اجازه به ګټورې پایلې تر لاسه کړې.

## (د ښه چمتووالي اهمیت)

که ته له هغو کسانو څخه یې چې خطبه په یادو وایې: نو باید په چمتو کولو کې یې ښه پاملرنه وکړې او په دې کې هیڅکله ناغېړي ونه کړې، که څه هم تاته داسې وبرېښي چې موضوع ساده او اسانه ده، او مخکې دې بیان کړې هم وي.

او ښه چمتووالی: د خطیبانو په نزد له خورا خوندورو چارو څخه دی، بلکې دوی د جمعې ورځې ته لېواله وي ترڅو هغه څه وړاندې کړي چې چمتو کړي یې دي او زحمت یې پرې ایستلی دی.

او خطبې ته چمتووالی نه نیول، او یوازې د نورو په خطبو بسنه کول ډېرې منفي پایلې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

لومړی: دا د همت د کمزورۍ، د ارادې د سستوالي او د نفس د سپکاوي لامل ګرځي، ځکه چې یوازې د نورو په تقلید کولو پکې بسنه کیږي.

دویم: دا ستا جذبه، فعالیت او خوند له منځه وړي او داسې شي لکه یو غم چې غواړې له ځانه یې لرې کړې، او ستا پر چلند او د خلکو له خوا ستا پر منل کېدو اغېز وکړي.

دريیم: ډېرى خلک دا احساس کوي چې خطيب خطبه پخپله نه ده چمتو کړې، بلکې له بل چا يې نقل کړې ده، او دا د هغه له خپل اسلوب او کچې سره د خطبې د اسلوب او موادو د توپير له امله ده، نو ځکه دا خطبه د دوى په وړاندې د منلو وړ نه ګرځي.

څلورم: دا چې ته به ترې ګټه وانخلې، او که ګټه ترې واخلې هم نو هغه به ډېره لږه وي، ځکه هغه عمل چې خاوند يې په څېړنه او چمتووالي کې زيار نه باسي، ډېر ژر هېرېږي او له منځه ځي.

او هېڅکله به پرمختګ ونه کړې، او نه به دې لوړې هيلې زياتې شي، او نه به دې همت ستر شي، او نه به دې له علم څخه ګټه واخيستل شي - مګر دا چې الله تعالى وغواړي -.

له همدې امله هغې خطبې ته وګوره چې تا په ښه توګه چمتو کړې وي، وبه ګورې چې هېره کړې دې نه ده، او که چېرې له څو کلونو وروسته بيا ورته مراجعه وکړې، نو ته به پوهېږې چې په هغې کې څه دي، او داسې به وي لکه تا چې په نږدې وخت کې ويلې وي.

خو هغه خطبې چې تا له نورو څخه رانقل کړې دي، ډېر ژر به يې هېرې کړې، او دا تجربه کړه؛ هغو خطبو ته ور وګرځه چې څلور يا پنځه کاله پرې تېر شوي وي، نو وبه ګورې چې هغه دې هېرې کړې دي او يا به يې يوازې ډېره لږه برخه در په ياد وي چې په کې راغلې وه.

او د هغې د موادو په راټولولو کې به هم پرې ګټه وانخلې؛ ترڅو داسې کتاب ترې جوړ شي چې ګټه پرې واخيستل شي.

نو د خطبې په چمتو کولو کې پوره هڅه وکړه، لکه څنګه چې ته يې په يوه کتاب کې خپروې، نو احاديث يې تخريج کړه او د ځينو محدثينو د ويناوو په مرسته د هغو د صحت درجه روښانه کړه، او هغه مراجع او سرچينې مستندې کړه چې تا ورته مراجعه کړې ده، او له نحوي، املايي او ژبني پلوه ورته پاملرنه وکړه.

**(ليک دود نښو ته پاملرنه)**

- کله چې خطبه لولې - د وقف او ترقيم نښو ، لکه فاصلو او داسې نورو ته پاملرنه وکړه، او د خپلې ساه په پام کې نيولو سره د ځان لپاره داسې ځانګړې نښې وټاکه چې هلته ودرېږې، ترڅو په نامناسبو ځايونو کې د ډېر درېدو له امله له شرمندګۍ سره مخ نه شې.

**(د ډول ډول موضوعاتو او مېتودونو اهميت)**

د موضوعاتو په وړاندې کولو کې بدلون راوړئ، او په يو ډول ځان مه محدودوه، لکه دا چې ستاسو خطبې د زړونو د احوالو، يا د امت د عامو چارو، او يا داسې نورو په اړه وي، او په دين او دنيا کې د خلکو اړتياوې په پام کې ونيسه.

بلکې بېلابېلې بڼې وړاندې کړه؛ ترڅو د خلکو په زړونو کې خپلو خطبو ته ليوالتيا پيدا کړې.

او که چېرته يې له يوه سره تړلې ځنځير جوړ کړې، نو د اړتيا پر مهال به يې په پرې کولو کې کوم ممانعت نه وي.

او پوهه شه چې هغه کيسې چې له قرآن کريم، صحيحه سنتو او د صحابه کرامو - رضي الله عنهم - له اقوالو څخه

اخیستل شوي وي، پر اورېدونکو خورا ستر اغېز لرلای شي او په هغو کې ډېر ستر درسونه او عبرتونه، او پندونه او مرغلرې شتون لري، نو پر هغو او په یوه په زړه پورې اسلوب سره د هغو پر وړاندې کولو ټینګار وکړه، او له هغو څخه ګټې او عبرتونه استنباط کړه.

او خپله خطبه د پېښو، کیسو، واقعي مثالونو او داسې نورو له ذکر څخه خالي مه پرېږده؛ ترڅو ستا خطبې ستړې کوونکې او درنې نه شي.

او سخت ټینګار وکړه چې کیسې او پېښې په تر ټولو غوره اسلوبو وړاندې کړې، او په خپلو احساساتو سره ورسره تعامل وکړې، او دا باید ستا د مخ په څېره او د غږ په انداز کې څرګند شي.

او هڅه وکړه چې د خلکو له واقعیت او د هغوی له اندېښنو سره ژوند وکړې، ترڅو داسې ونه شي چې ته په یوه وادي او هغوی په بله وادي کې وي.

## (د وینا او تاثیر د مهارتونو او فنونو د ترلاسه کولو اهمیت)

د وینا د مهارتونو او فنونو د ترلاسه کولو لپاره په خلکو کې تر ټولو وړ شخص خطیب دی؛ ځکه خطیب اړتیا لري چې خلک قانع کړي، او پام یې راجلب کړي، ترڅو هغه څه ومني چې دی یې ورته وایي.

او هغه خطیب چې د قوي اسلوبو او عالي بیان خاوند وي، خلک زیاتره د هغه چا په پرتله ترې ډېره ګټه اخلي چې دا

ځانګړتیاوې نه لري، که څه هم ډیر پوه وي او لوړ منصب ولري.

خطیب باید د وینا د هنر درسونو ته غوږ ونیسي، او که چېرې ورته حاضر شي نو دا لا غوره ده، او یا هم په دې اړه اړوند کتابونه ولولي.

او څوک چې له الله سره رښتینی شي او خپل ځان او خپل وخت هغه ته وقف کړي، الله به له خپل لطف او فضل څخه هغه ته داسې څه ورکړي چې نه یې په ګومان کې وو او نه یې په خیال کې ګرځېدلي وي، او څوک چې الله ته هغه څه ورکړي چې د هغه خوښ وي، الله به ورته د هغه څه څخه ډېر څه ورکړي چې د هغه خوښ وي، او څوک چې خپل ځان الله ته تابع کړي، الله به ورته خپل مخلوق تابع کړي، او د خوشبختۍ، لوړتیا او واک اسباب به ورته آسا وګرځوي.

نو ستا او د لوی رب د لوړېینو ترمنځ یوازې رښتینی عزم، خاص د پاک الله لپاره پیاوړې اراده، د هغه څه پرېښودل چې ته یې خوښوې او زړه دې غواړي د هغه څه لپاره چې د الله خوښ دي او پرې راضي کېږي، او د هغه د دین او شریعت د لوړتیا لپاره پرله پسې هڅې کول، که څه هم دا کار د دنیاوالو، د نفساني غوښتنو او منصبونو د خاوندانو پر وړاندې ستا د مقام د راټیټېدو لامل شي.

### (د تجدید اصل)

پرته له شکه الله تعالی انسان د نوي والي او د غوره والي په لور د بدلون خوښوونکی پیدا کړی دی، نو خلک به ومومې چې په یوه حالت نه پاتې کېږي، او هر کله چې په ژوند کې

کوم نوی شی رامنځته شي، د توان په صورت کې يې د لاسته راوړلو لپاره بيړه کوي.

نو نن ورځ يو سړی داسې نه دی لکه لس کاله مخکې چې و، بلکې نن يې ګورې چې د خپل ژوند، معيشت، سپړلۍ او کور بڼې يې د غوره والي په لور نوې او بدلې کړې دي.

او د جمعې خطيب: له هغو خلکو څخه دی چې تر ټولو زيات د دې وړ دی چې خپل اسلوب نوي او ښه کړي، او د بيان او اغېز شيندلو مهارتونو ته وده ورکړي، ځکه که چېرې هغه پر هماغه يوه بڼه روان وي چې د خطابت د مسؤليت له اخيستلو راهيسې پرې عادت شوی وي، نو له شک پرته چې د ښه والي او غوره والي په لور به بدلون ونه کړي، بلکې شاتګ به وکړي؛ ځکه چې دا د انسان طبيعت دی چې د عمر په تېرېدو او زړښت سره يې همت او نشاط کمزوری کيږي، روح يې مړاوی کيږي، او اغېز يې کميږي، نو ځکه هغه داسې څه ته اړتيا لري چې هغه ته نشاط وروبخښي، همت او روح يې پياوړی کړي، او مهارتونو او اسلوبونو ته يې وده ورکړي، ترڅو د کمزورۍ پر هغو حالتونو بريالی شي چې پر ده، د ده پر حواسو او همت راځي.

او ډيری خطيبان له کله نه چې يې د خطبې ويل پيل کړي، کوم څرګند بدلون پکې نه دی راغلی، نو ايا د دې مانا دا ده چې دوی له هماغه پيل څخه پوره والي ته رسېدلي وو؟

نه.

نو بيا، ولې هغه پر خپله هماغه تګلاره پاتې کيږي چې ورسره عادت شوی دی، او د خپل بيان او وړاندې کولو بڼې

ته پاملرنه نه کوي، او د ښه والي، نوي کولو او نوښت لپاره سم ګامونه نه پورته کوي، په داسې حال کې چې د خپلو معیشتي او دنیوي چارو په ښه کولو کې یې پوره هڅه کړې ده؟

او هغه به څنګه د دې لپاره هڅه ونه کړي، په داسې حال کې چې د خطبې مقام له هغو تر ټولو غوره او سترو کارونو څخه دی چې هغه یې په خپل ژوند کې ترسره کوي؟

### (د اغېز دوو وسیلو ته پاملرنه: غږ او نظر)

بریالی خطیب د دغو دوو وسیلو کارولو ته خورا زیاته اړتیا لري:

۱ - غږ، چې د اغېز تر ټولو قوي وسیله ده، او د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره یې اغېز بشپړېږي:

الف- باید د غږ کچه یې په اوچتوالي او ټیټوالي، او چټکتیا او ورووالي کې درمیانه وي، نو نه باید دومره ټیټ یا ورو وي چې اورېدونکو ته ستړیا او سستي پیدا کړي، او نه هم باید تر دې کچې اوچت یا چټک وي چې د هغوی د ځوروني لامل شي او یا د تمرکز او پوهېدو توان له لاسه ورکړي.

ب- باید په یوه بڼه نه وي، ځکه د ځینو خطیبانو غږ په ټوله خطبه کې یو ډول وي، نو که چېرې کمزوری وي هغوی ستړي کوي، او که قوي او لوړ وي هغوی تنګوي.

په یوه انداز خبرې کول: د دې سبب ګرځي چې اورېدونکي د خطیب له وینا سره خپل تعامل له لاسه ورکړي؛ ځکه چې هغوی به د مهمو او نورو برخو ترمنځ توپیر ونه کړای شي،

او په دې کې هيڅ شک نشته چې مهم او اغېزناک کلام، له چټکوالي سره د غږ د پام وړ لوړولو، او یا له ورووالي سره د هغه ټينګولو ته اړتيا لري.

ج- د موقعيت له مخې د جملو د غږ جوړول، نو که چېرې پوښتنه وي، د پوښتونکي په انداز يې ادا کړه، او که تعجب وي، نو د تعجب کوونکي په انداز يې ادا کړه، او همداسې نور.

د- خپله خوله د خپلو عادي خبرو په پرتله زياته پرانيزه، ځکه چې دا کار د حروفو د مخارجو په روښانتيا، د هغوی په نه ګډوډېدو، او پر غږ د کنټرولولو په وړتيا کې ګټور دی، خو پرته له مبالغې، ځکه د خولې په پرانيستلو کې مبالغه د افراطي جذبې او د خطيب لپاره د يوه نامناسب منظر لامل ګرځي.

ه- په خپل عادي غږ خطبه ورکړه، او د خطبې لپاره ځانګړی غږ او انداز مه غوره کوه، ځکه چې دا کار به ستا او خلکو ترمنځ د واټن رامنځته کېدو سبب شي، او پر اورېدونکو د اغېز تر ټولو پياوړو وسيلو د له لاسه ورکولو سبب به وګرځي.

او په هغو حالتونو کې لږ توقف کول چې توقف پکې غوره وي، نو کله چې خطيب کومې مهمې موضوع ته ورسيږي او غواړي چې د خپلو اورېدونکو په ذهنونو کې يې ځای پر ځای کړي: هغوی ته دې مخ واړوي، او د يوې شېبې لپاره دې مخامخ د هغوی سترګو ته وګوري، پرته له دې چې څه ووايي.

او دا ناڅاپي چوپتیا پر هغوی لوی اغېز لري، په داسې ډول چې د هغوی پام ځانته راواړوي، او د دوی هر یو هغه څه ته متوجه او لیواله کړي چې له دې چوپتیا وروسته به راځي.

خو توقف باید پرته له اوږد مهاله څنډ، او پرته له تکلف څخه وي.

د دې بیلګه: (علي - رضي الله عنه - پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته یوه د سرو زرو ټوټه راولېږله، نو هغه یې د خپلو ځینو اصحابو ترمنځ تقسیم کړه.

نو یو سړی را وړاندې شو او ویې ویل: له الله نه ووېرېږه اې د الله رسوله! (...)

د صادق او امین صلی الله علیه وسلم په حق کې دا څومره لوی جرأت دی!!

نو له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې جرئت څخه په تعجب سره وفرمایل: (...) که زه نافرماني وکړم نو څوک به د الله اطاعت وکړي، ایا الله پر ما د ځمکې د خلکو په اړه باور کوي او تاسې پر ما باور نه کوئ؟)

د قوسونو دننه لنډې دمې ته اشاره کوي؛ ځکه چې حالت د دې غوښتنه کوي تر څو د اورېدونکو پام راواړوي، او هغه څه ته یې لېواله کړي چې وروسته به ویل کېږي.

او لومړۍ جمله: (د صادق الامین صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حق کې دا څومره ستر جرأت دی!!)، د تعجب اسلوب و، نو مقام تقاضا کوي چې هغه یې د یوه تعجب کوونکي په صیغه راوړي.

او دویمه جمله: (څوک به د الله اطاعت وکړي که چېرې زه یې نافرماني وکړم، آیا الله پر ما د ځمکې د خلکو په اړه باور کوي، نو تاسو پر ما باور نه کوئ؟)، د انکاري استفهام په اسلوب کې وه، نو مقام تقاضا کوي چې هغه یې د یوه انکاري پوښتونکي په بڼه بیان کړي.

۲- کتل: او هغه په دې ډول چې خپل نظر پر ټولو اورېدونکو ووېشي، او په خپلو سترګو سره له هغو خبرو سره تعامل وکړي چې ته یې کوي، او دا په لاندې ډول دي:

أ- ښي او چپ لوري ته په لږ مخ ګرځولو سره، پرته له دې چې د مخ ګرځولو په چټکتیا او ډېروالي کې مبالغه وشي، ځکه چې دا کار په ځانګړې توګه د خطیب له لوري غوره نه ګڼل کېږي؛ ځکه چې دا د خطیب د احساساتو پر غالبېدلو او پر هغه باندې د هغو پر تسلط دلالت کوي، او دا کار په تمرکز کې د دقت د نشتوالي لامل ګرځي.

ب - د سترګو په خلاصولو یا پر هغو لږ فشار راوړلو سره، د سترګو حرکتونه پر حاضرینو خورا ستر اغېز لري، او له هغو څخه داسې ماناوې اخلي چې ښایي ژبه یې بیان نه کړای شي.

غږ او نظر: پر اورېدونکو د خطیب د اغېز له رکنونو څخه دوه بنسټیز رکنونه دي، او له دې دواړو پرته هغه هغوی ته د هغه څه رسولو توان له لاسه ورکوي چې دی یې غواړي، او د هغوی د قانع کولو، د پاملرنې جلبولو، او د هغوی د جذبې او نشاط راپارولو وړتیا له لاسه ورکوي.

او هر خطیب کولای شي چې دا دواړه له کوم حرج او تکلف پرته وکاروي، خو له مبالغې پرته، ځکه په دې کې مبالغه کول د سپکوالي او بې باکۍ څرګندونه کوي، لکه څنګه چې په وقار او سکون کې مبالغه کول د ستړیا او زړه تنګون لامل ګرځي، او غوره چارې هغه دي چې اعتدال پکې وي.

او ځینې وسایل شته چې د جمعې د خطیب لپاره مناسب نه دي، چې ځینې یې دا دي:

۱- د لاسونو خوځول.

۲- د چینې یا پګړۍ خوځول، د غږ له وسایلو سره بې ځایه لاسوهنه کول، مخکې او وروسته کېدل او داسې نور.

## (د کومې خاصې صیغې پابندي مه کوه چې په صحیح سنتو کې ثابته نه وي)

باید پر یوې ځانګړې صیغې پابندي ونه شي، مګر هغه څه چې په صحیح سنتو ثابته وي، ترڅو دا ګومان ونه شي چې دا سنت دي، لکه د لومړۍ خطبې په پای کې دا ویل: «بَارَكَ اللّٰهُ لِي وَلَكُمْ فِي الْقُرْآنِ الْعَظِيم..» "الله تعالی دې ماته او تاسې ته په قرآن عظیم کې برکت واچوي..".

او ډېر ځله ځینې خطیبان د خطبې په پای کې پر یوې داسې دعا پابندي کوي چې تقریباً ترې نه وځي (بدلون پکې نه راولي)، او ځینې یې بیا دا تکراري دعا دومره اوږدوي، تر دې چې کله خطیب دعا پیل کړي، نو ډېر خلک د تنګۍ او ستړیا (خستګۍ) احساس کوي؛ ځکه چې هغوی د هغې له زیات تکرار څخه په داسې یو اسلوب سره ستړي شوي وي

چې یوازې پرله پسې ویل (سرد) پرې غالب وي او په دعا کې مطلوب تعامل شتون ونلري.

*(د حروفو مخارجو ته پاملرنه او یو په بل کې د هغوی نه داخلول)*

هڅه وکړه چې حرفونه له خپلو مخارجو څخه په سمه توګه ادا کړې، ځکه چې دا په فصاحت، بیان او د کلام په قوت کې ژوره اغېزه لري.

او له هغو مواردو څخه چې پر خطیب نیوکه کېږي دا دي: چې الفاظ په دومره بېړه ادا کړي تر دې چې یو توری یا لفظ له بل سره وصل کړي، مخکې له دې چې لومړی توری یا لفظ په خپل ځای کې قرار ومومي، او غوره ادب دا دی چې توري په پوره ډول ادا کړي، او کلمې په بشپړه توګه سره جلا کړي.

او همداسې د تر ټولو فصیح او بلیغ انسان (نبي علیه السلام) کلام و.

ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها وایي چې: «بېشکه رسول الله صلى الله علیه وسلم به ستاسې په شان یو ځای خبرې نه کولی».

*(د خطبې موخه، او تر ټولو مهم موضوعات چې خطیب یې باید بیان کړي)*

خطیب باید خلک د دنیا له نړۍ، د هغې له اندېښنو او پېښنو څخه د آخرت نړۍ او د هغې لپاره چمتووالي ته ولېږدوي، او

جومات باید یو رسنیز منبر نه وي چې خطیب پکې سیاسي مسایلو ته ننوځي او په داسې څه کې بحث وکړي چې د اورېدونکو لپاره نه په دین او نه هم په دنیا کې کومه ګټه ولري.

او د یوه موفق خطیب ډېری خطبې پر هغو موضوعاتو وي چې ایمان او له الله تعالی سره تړاو زیاتوي؛ ځکه که چېرې د خلکو ایمان زیات شي او له خپل رب سره یې تعلق پیاوړی شي، نو دا به د ګناهونو او بې ارزښته کارونو د پرېښودلو تر ټولو لوی سبب وي.

او له هغو موضوعاتو څخه چې خطیب یې باید له پامه ونه غورځوي او تل یې باید تکرار کړي:

توحید او د اسلام رکنونه.

د لمانځه طریقه او پکې د خشوع اهمیت.

د موسمونو اړوند موضوعات، لکه د رمضان میاشتې د فضیلت اړوند وینا کله چې یې وخت راشي.

له فتنو څخه خبرداری او له هغو سره د تعامل څرنګوالی.

له بدعت نه خبرداری.

د شیطان له مکر او د هغه د دوکې له لارو څخه وېرونه.

اخلاق او آداب او هغه څه چې ورپورې اړه لري.

او له هغو موضوعاتو څخه چې په الله تعالی ایمان او تعلق زیاتوي:

1 - د خلکو په زړونو کې د هغه د صفتونو او نعمتونو په یادولو سره د الله تعظیم کول.

2- د قرآن درناوی کول کوم چې د هغه کلام دی.

3- د پیغمبرانو علیهم السلام، چې په سر کې یې د هغوی وروستی زموږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم دی، او د صحابه کرامو رضي الله عنهم د کیسو یادول.

۴- د جنت، د هغه د صفتونو او ورته د ننوتلو د لاملونو یادونه، او همدارنګه د دوزخ.

۵- قلبي عبادتونو ته پاملرنه کول: لکه توکل، انابت (الله ته رجوع کول)، توبه، وېره او خشوع.

علامه ابن القیم -رحمه الله- فرمایلي: «او څوک چې د نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو خطبو ته ځیر شي، نو هغه به یې د هدایت او توحید د بیانولو، د رب جل جلاله د صفتونو د یادونې، د ایمان د کُلي اصولو، د الله تعالی لوري ته د دعوت او بلنې ورکولو، د هغه تعالی د هغو نعمتونو د یادونې چې هغه خپل مخلوق ته ګرانوي، د هغه د هغو ورځو د یادونې چې دوی د هغه له سختۍ څخه وېروي، او د هغه د ذکر او شکر د داسې امر لپاره پوره کافي ومومي چې دوی هغه (الله تعالی) ته ګرانوي. نو دوی د الله تعالی د عظمت، د هغه د صفتونو او نومونو څخه داسې څه بیانوي چې هغه خپل مخلوق ته ګران کړي، او د هغه د اطاعت، شکر او ذکر کولو داسې امر کوي چې دوی هغه ته ګران کړي، نو اورېدونکي په داسې حال کې ستنیږي چې الله دوی ته ګران شوی وي او دوی الله ته ګران شوي وي».

بیا چې کله د وخت واټن اوږد شو او د نبوت رڼا پټه شوه، نو شرعي احکام او اوامر یوازې په داسې ظاهري رسمونو

بدل شول چې د هغوی د حقیقتونو او مقاصدو له مراعاتولو پرته ترسره کېدل. نو هغوی ورته یوازې ظاهري بڼه ورکړه او په خپله خوښه یې سینګار کړل، دا ظاهري رسمونه او حالتونه یې داسې سنت وګرځول چې نه باید کمی پکې راشي، خو په هغو اصلي مقاصدو کې یې کمی راوست چې نه باید کمی پکې راغلی وای. نو خطبې یې په مسجع عباراتو او علمِ بدیع سره ښایسته کړې، چې له امله یې د زړونو برخه ورڅخه کمه، بلکې بیخي له منځه لاړه، او اصلي موخه ترې پاتې شوه» پای."

او هغه -رحمه الله- د خطبې د موخې په اړه په خپلو خبرو کې وفرمایل: «له دې څخه مقصد د الله تعالی ثنا او لویي بیانول، د هغه په یووالي او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د رسالت ګواهي ورکول، بندګانو ته د هغه د ورځو ور په یادول، د هغه له عذاب او ربړونې څخه هغوی وېرول، هغوی ته د هغه څه وصیت کول چې هغه او د هغه جنتونو ته یې نږدې کوي، او له هغه څه څخه یې منع کول چې د هغه غضب او اور ته یې نږدې کوي، نو همدا د خطبې او د هغې لپاره د راټولېدو مقصد دی» ا.ه.

او خطیب باید خلک هغو تېروتنو ته متوجه کړي چې د دوی ترمنځ په عقیده، عباداتو، اخلاقو، تعامل، معیشت، روزنې او ورته نورو برخو کې خپرې دي، او په فتنو کې له ښکېلېدو څخه ورته خبرداری ورکړي، او هغوی ته د دوی د دین چارې ورزده کړي.

والله أعلم، وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

فهرست

(د خُطبې اهمیت)............................................................. 3
(د رحمٰن ذات ملاېکې تا ته غوږ دي، نو د هغوی قدر وکړه).......... 6
(کوم یو غوره دی :د خُطبې ارتجالي ویل که له پاڼې څخه د هغې لوستل؟
........................................................................... 7
(اته پړاونه )ګامونه (چې په خطابت کې د بریالۍ اداینې په لور لاره اسانوي او هواروي ............................................................ 9
(د خطبو د وړاندې کولو په پیل کې اندېښنه او اضطراب یو عادي او معمول کار دی ........................................................... 11
(د خطابت له زیاتې وېرې څخه د خلاصون اسباب).................... 13
(د هغو ناسمو نیوکو غوره حل چې تاسو ته متوجه کېږي).......... 16
(له خطبې نه مخکې د خطیب لپاره وصیتونه) ........................... 17
(د خطبې پر مهال د خطیب لپاره لارښوونې) .......................... 21
(له خُطبې وروسته خطیب ته وصیتونه)................................. 23
(د خطیب او د الله تعالی لورې ته بلونکي لپاره عمومي نصیحتونه)24
(زېرې ورکړه او خلک مه زړه توري کوه) .............................. 24
(عام خلق د خپلو سترګو وړاندې ودروه) ............................... 25
(په ځان له مغرور کېدلو او یا د خلکو لخوا ستا په ستاینه له مغرور کېدلو څخه ځان وساته......................................................... 27
(په هغه څه خبرې وکړه چې هغوی ته په دین او دنیا کې ګټه رسوي)
29 ...........................................................................
(د خطبې په وخت کې د ارامتیا خیال ساتل) .......................... 30
(د خُطبې له اوږدولو څخه ځان ساتل) ................................. 30
(له نا اشنا خبرو څخه ډډه وکړه) ........................................ 32
(له سجعې او تکلف څخه ډډه وکړه)..................................... 32

(د ظاهر سمون ته پاملرنه) ........................................ 33
(د خُطبې چمتو کولو د وخت توپیر) .................................. 35
(اورېدونکو ته د مستقیمو امرونو له کولو څخه ډډه کول) ............ 36
(په خطابت کې تقلید کله ښه او کله بد وي؟) ............................ 37
له تا سره د حاضرینو په کموالي مه خپه کېږه، او د هغوی په ډېروالي)
(مه خوشالېږه ..................................................... 38
(د ښه چمتووالي اهمیت) ............................................ 39
(لیک دود نښو ته پاملرنه) ........................................ 41
(د ډول ډول موضوعاتو او مېتودونو اهمیت) .......................... 41
(د وینا او تاثیر د مهارتونو او فنونو د ترلاسه کولو اهمیت) ......... 42
(د تجدید اصل) ................................................... 43
(د اغېز دوو وسیلو ته پاملرنه :غږ او نظر) ............................ 45
د کومې خاصې صیغې پابندي مه کوه چې په صحیح سنتو کې ثابته)
(نه وي ............................................................... 49
(د حروفو مخارجو ته پاملرنه او یو په بل کې د هغوی نه داخلول) 50
د خطبې موخه، او تر ټولو مهم موضوعات چې خطیب یې باید بیان)
(کړي ................................................................ 50